**مهمه يادونه:** دا د دې ليک د بشپړولو لپاره يو لارښود دی. مستقيماً دا نسخه مه ډکوئ يا يې مه لیږئ. دا لارښود تاسو سره د هغه نمونه ليک په پوهيدو او بشپړولو کې مرسته کوي کوم چې [دلته](#) موندل کېدی شي.

دا ليک یوازې هغه وخت اړوند دی که چېرې تاسو د غوښتنليک سپارلی وي مګر تاسو لاهم EGS يا ARAP ورو‌ستی پرېکړې ته سترګې په لار یاست.

[ستاسو نوم او تخلص]
[ستاسو د تليفون شمېره]
[ستاسو د برېښناليک پته]

په لومړي سر کې دا معلومات بشپړ کړئ

**Defence Afghan Relocation and Resettlement (DARR)**
Ministry of Defence Main Building
Whitehall
London SW1A 2HB

دې پتې ته یوازې د برېښناليک له لارې: darr-arap-review@mod.gov.uk

نېټه: ← د دې ليک د سپارلو نېټه وليکئ

د DARR محترمې ادارې ته،

عاجله غوښتنه:

د معلوماتو افشا کېدل او د **ARAP/EGS** غوښتنليک

د **ARAP/EGS** ځانګړې شمېره يا ريفرينس: [که درته معلوم وي] ← که چېرې د خپل غوښتنليک ځانګړې شمېره لرئ، هغه دلته وليکئ.

ما د ARAP/ ایکس ګریشا سکیم له لارې انګلستان ته د منتقل کېدو لپاره غوښتنليک سپارلی او پرېکړې ته يې لاهم سترګې په لار یم. لکه څنګه چې لاندې تشريح شوي، زه د دې ليک په ترڅ کې غوښتنه کوم چې زما د غوښتنليک په اړه اوس په عاجل ډول پرېکړه وشي.

زه د ۲۰۲۲ کال په جنوري کې د معلوماتو د افشا کېدو له امله اغېزمن شوی یم.

مهرباني وکړئ د لاندې بکسونو څخه هغه يو په نښه کړئ چې د تاسو لپاره صدق کوي

- ☐ ← ما تاييدي ترلاسه کړی. ما د برېښناليک يا د Self-Check وسيلې له لارې مثبته تاييدي ترلاسه کړې، او له دې ليک سره يې ضميمه کوم.
- ☐ ← ما تاييدي نده ترلاسه کړې، مګر ما د ۲۰۲۲ کال د جنوري په ۷مه يا له دې نېټې څخه مخکې غوښتنليک سپارلی دی. لکه څنګه چې زما غوښتنليک [په دې نېټه/مخکې له دې نېټې] د ۲۰۲۲ کال د جنوري ۷مه سپارل شوی وو، زه د معقولو دلايلو پر بنسټ باور لرم چې زما معلومات په افشا شويو معلوماتو کې شامل دي. زما ځانګړې شمېره يا ريفرينس دا دی: [ځانګړې شمېره دلته وليکئ.]

له همدې امله زه د دې موضوعاتو د عاجلې تاييدي غوښتنه کوم.

**خطر او د معلوماتو افشا کېدل: بيرنی اقدام اړين دی**

ما د ARAP/EGS له لارې غوښتنليک وسپارل ځکه چې زه د خپل خونديتوب او د خپلې کورنۍ د خونديتوب په اړه ډېر اندېښمن وم.

زه په ژوره توګه اندېښمن يم چې عامه خلک زما هغه معلوماتو ته لاسرسی لري کوم چې ما په خپل غوښتنليک کې ليکلی وو او کېدی شي د هغو خلکو لاس ته ورشي چې غواړي ما يا زما کورنۍ ته زيان ورسوي. زه يې داسې ګڼم چې دې کار ما او زما کورنۍ ته د زيان رسولو خطر لا زيات کړی دی.

په دې اساس زه غوښتنه کوم چې زما د غوښتنليک پروسه بايد ګړندۍ شي او په بيرني ډول پر اجراآت وشي.

اوس مهرباني وکړئ په بيړني ډول دا کارونه وکړئ:

i. زما د بيا مېشتېدنې / منتقل کېدو غوښتنليک په اړه پرېکړه وکړئ؛
ii. زما د غوښتنليک فورمې يوه کاپي او د معلوماتو د افشا کېدو په وخت کې زما په اړه له تاسو سره ټول موجود معلومات راولېږئ، ترڅو د ځان او خپلې کورنې په اړه د هغو معلوماتو کچه معلومه کړم چې کېدی شي افشا شوي وي؛
iii. د هر هغه خطر ارزونې راپور يوه کاپي راکړئ چې تاسو وروسته له هغه ترسره کړې چې د معلوماتو د افشا کېدو په اړه خبر شوئ؛
iv. په دې اړه چې ولې زه د افغان غبرګون لارې ('ARR') پرګرام لاندې منتقل نه شوم وضاحت ورکړئ، او همدارنګه د هغې لارښوونې يا پاليسۍ يوه کاپي راکړئ چې د دې پرېکړې د کولو لپاره کارول شوې وه.

| |
|---|
| .که تاسو په دې اړه ځانګړي دلايل لرئ چې ولې تاسو په خطر کې ياست، هغه تشريح کړئ |

مهرباني وکړئ تاييد کړئ چې تاسو به پورتني کارونه د ۱۴ ورځو په دننه کې وکړئ يا يوه بله روښانه نېټه راکړئ چې تاسو به تر هغې نېټې پرېکړه وکړئ.

په درناوي،

(ستاسو نوم ) → خپل نوم او تخلص د لاسليک په توګه وليکئ